# د امن سندره

حضرت زبیر زبیر

د ژوند سندرې غږوم ساز د شپېلۍ راکړه
دومره اختیار د ازادۍ راکړه
خدایه د امن د وزر په سېورې ځائے راکړه
دومره اختیار د ازادۍ راکړه

خدایه پښتون یمه زۀ
ورک په ژوندون یمه زۀ
لکه ښکار شوې هوسۍ
په مېږتون یمه زۀ

څۀ رو ګودر د دې درنې پرېشانۍ راکړه
دومره اختیار د ازادۍ راکړه

ماته کوڅه په کوڅه
بلې لمبې وګرځې
لکه استازے د مرګ
جنګ راپسې وګرځې

جنګ د بقا دے ننګ ناموس د قامولۍ راکړه
دومره اختیار د ازادۍ راکړه

زۀ دې تور تم کښې د وخت
پوتې رڼا نۀ وینم
لور په لور وبورېږم
نمر په صحرا نۀ وینم

دې تورې شپې له رڼاګانې د سپوږمۍ راکړه
دومره اختیار د ازادۍ راکړه

ما نه د ژوند په لارو
خوبان سندرې غواړي
قربان شم لوئے او واړۀ
خوږې خبرې غواړي

خوږو خبرو له د مینې دنیاګۍ راکړه
دومره اختیار د ازادۍ راکړه

نۀ جاګیرونه غواړم
نۀ منصبونه غواړم
نۀ سیم و زر ته ولاړ
نۀ دستارونه غواړم

نورو قامونو سره ژوند ښۀ د سیالۍ راکړه
دومره اختیار د ازادۍ راکړه

# پښتونخوا د ګلو ځانګه

سید امیر قاسم هاشمي

لږ پرې ټکور کړه خُوږ نظر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ
ځانګه دې ولیده سحر- جانان ګل شوه کۀ نۀ

ما درته نۀ وې دا غوټۍ به سرۀ ګلونه وکړي
سپرلے به راشي بلبلان به چغارونه وکړي
په وینو اوښکو مو کړه تر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

دا د شېرشاه او ابدالي د ارمانونو ځانګه
دا د میرویس، خوشحال، رحمان د امېدونو ځانګه
د بیټ نیکۀ دعا اثر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

خوږه د عدم تشدد د خپل بابا فلسفه
ژوندۍ ساتلې په غېرت ولي خان دا فلسفه
اسفندیار مو سر لښکر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

دا د بابړې او ټکر د شهیدانو نخښه
دا د بې شمېره بې اسرې او مظلومانو نخښه
چې نۀ په مال وو نۀ په سر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

دا د صدو صدو د جبر اور کښې وسوزېده
څومره چې وسوزېده وپړقېده وځلېده
دې لا ونۀ لید کوم محشر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

د ملاکنډ د سر درو د چنارونو نغمې
د ګل بڼونو شور راوړي د ابشارونو نغمې
نن د بولانه تر خېبر- جانانه ګل شو کۀ نۀ

ګل دستې ورمه د حمید او علي خان پټکي له
د کاکاجي، حمزه بابا، سمندر خان پټکي له
د ټول هېواد په لر و بر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

دا د فدا عبدالمالک او د مېړي نغمه ده
دا د اجمل د غېرت چغه د غني نغمه ده
شیندي خوارۀ په هشنغر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

خورې ورې د س ب ب او د بانو سندرې
آدم راټولې کړې رباب ته د درخو سندرې
هر مازیګر په هر ګودر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

خیال بخاري، تقویم، ظفر کامل، رسا غوښتله
میا افتخار، افراسیاب، لطیف، لالا غوښتله
همېش خلیل، قاضي اثر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

دا د اندېښ، ګران د اعظم او قلندر مینه ده
دا د اسرار، اقبال، راهي، برق او بشر مینه ده
د غږ خوارۀ د پیرګوهر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

د شېر علي باچا په قبر، زبېر ږدي ګلونه
شفق، عاصي هشنغري له قط کوي ګلونه
زاهد د ژوند په هر ډګر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

دا د ساحل، اکمل، خېبر او د خاطر په ژبه
د ارماني، زیار، عابد او د صابر په ژبه
سائل ولاړ په هر سنګر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

دا ګل ورینه ځانګه دا زمونږ زخمي پښتونخوا
قطرې د زړۀ غوارې زمونږ نه هاشمي پښتونخوا
غوارې پټۍ په هر پرهر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ
ځانګه دې ولیده سحر- جانانه ګل شوه کۀ نۀ

## امېد

اسرار د طورو

زۀ نسيم يم تۀ وږمه ئې
زۀ بلبل يم ته نغمه ئې
غېږه را چې روانېږو
په اما کما خورېږو
د خزانه به ورتېر شو
د سپرلو نه به چاپېر شو
مړاوي زړونه به تازه کړو
زېړ مخونه به غازه کړو
مړۀ لاشونه به ژوندي کړو
خپل طاقت به اندازه کړو
ټول وطن به رابېدار کړو
په ګلشن به نوبهار کړو

منظور کامران

په دغه ښاريه کښې وحشتونه راپسې دي
تنې په ځائے ولاړې دي سرونه راپسې دي

اے وخته خپله غېږ کښې ماله لږه پناه راکړه
پښتون يم در په در يم عذابونه راپسې دي

د کلي نه روان يو خو په بېرته کتے نۀ شو
د داسې بلاګانو قدمونه راپسې دي

د ژوند شمعه مو وژني اے اسمانه راته پام کړه
بلا بلا تيارې او تندرونه راپسې دي

رحمت شاه سائل

ژوند کۀ مې يوه سلګۍ هم پاتې ؤ تېره مې کۀ
يو تار د ګرېوان په ګوتو راغے نو نغمه مې کۀ

ما نه خو حالاتو سربازي غوښته او ومې کړه
خپل نصيب مې داؤ کۀ، کۀ تاوان مې کۀ کۀ نۀ مې کۀ

ستنې مې د خپل نظر پښتون ته په زړۀ ښخې کړې
نور ترې خبر نۀ شوم چې مې وېښ کۀ، کۀ اودۀ مې کۀ

اوس مې دې د ګوتو نه د ذهن، هنر، وترورې
تا له خو مې ستا تصوير راوړے ؤ چې څۀ مې کۀ

دومره هم پوره وه د غريب زړۀ د الفت قصه
ياره ستا د مينې د خوبونو شهزاده مې کۀ

ستا نظر چې ستا نۀ ؤ پردے د آئينې نۀ هم
دا به مې ضرور د محبت منې چې شته مې کۀ

اور د هغو سترګو خو والله چې زما اور خوښ ؤ
عشقه لېونيه دا مې څۀ وکړۀ اوبۀ مې کۀ

## قطعه

شاه ذوالله اسير

ترې بل مې چراغان کړۀ د خيالونو انجمن کښې
په ژوبل ژوبل زړۀ کښې هر يو زخم مې مشال کړو
چې ناوې د غربت مې د سيالۍ تقاضا وکړه
نو خپل د بې وسۍ خيرې څادر مې ورله شال کړو